# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۲٥ ګڼه / دوشنبه ۲۹ رمضان‌الکریم ١٤٤٥ هـ.ق / ۲۰ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۰۸ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


## مالیزیا کې افغان سفیر د تایلنډ د اسلامي چارو له مسوول سره وکتل

مالیزیا کې د اسلامي امارت سرپرست سفیر نقیب‌الله احمدي تایلنډ هېواد ته د یوه رسمي سفر په ترڅ کې د یاد هېواد د اسلامي مرکز له رییس شیخ الاسلام هارون بونشام سره کتلي دي.
سفیر، له تایلنډ سره د اسلامي امارت د اړیکو پر پیاوړتیا، د دغه هېواد له مسلمانانو سره په راشه راشه او نورو موضوعاتو بحثونه کړي دي.
ویل کېږي چې شیخ الاسلام تایلنډ کې د مسلمانانو سیاسي او روحاني مشر بلل کېږي، چې د یاد هېواد د پاچا له لوري ټاکل کېږي او د هېواد ټولې اسلامي چارې پر مخ وړي.
تر دې وړاندې افغان سفیر په دغه هېواد کې له افغان سوداګرو او محصلینو سره کتلي وو.
افغان سوداګرو د ښاغلي سفیر له سفر څخه خورا زیاته خوښي څرګنده کړې وه او په وینا یې چې د لومړي ځل لپاره افغان سفیر تهتایلنډ ته راځي او د خلکو ستونزې اوري.
تایلنډ اسیایي هېواد دی چې ګڼ افغان پانګوال پکې پر سوداګرۍ بوخت دي او په یاد هیواد کې تر سلو زیاتې کمپنی لري.



اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:۲۳
سحر: ٤:۰۲

# بیش از ۱۰۰ زندانی به فرمان امیرالمؤمنین از زندان کندهار آزاد شدند




پس از فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله، ۱۰۳ تن از زندانیان به مناسبت فرا رسیدن عید سعید فطر از زندان ولایت کندهار، آزاد شده‌اند.
دفتر رسانه‌های والی کندهار با نشر خبرنامه‌ای از آزادی این تعداد از زندانیان از زندان این ولایت خبر داده است.در خبرنامه آمده که بربنیاد این فرمان در مجازات ۲۵ زندانی دیگر نیز تخفیف رونما شده است.در خبرنامه همچنان گفته شده که ۹۷ مرد، پنج کودک و یک زن، زندانیان آزاد شده از زندان ولایت کندهار هستند.مولوی فضل‌الله عاصم، رییس دیوان جزای محکمه استیناف ولایت کندهار هنگام رهایی زندانیان گفته که شما همه در نتیجه ترحم خاص عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله، از زندان آزاد شده‌اید.
این در حالی است که در نتیجه صدور فرمان اختصاصی امیرالمؤمنین حفظه‌الله، به مناسبت عید سعید فطر، صدها زندانی از زندان‌های کشور آزاد و در مجازات برخی دیگر تخفیف رونما شده است.

## سنگ بنای پروژه رهایشی «نیله‌باغ» به ارزش حدود ۷۱ میلیون دالر گذاشته شد



سنگ‌بنای ساخت پروژه رهایشی «نیله‌باغ» به ارزش حدود ۷۱ میلیون افغانی در شهر کابل گذاشته شد.معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزرا در خبرنامه‌ای دیروز، از آغاز این پروژه در حضور داشت ملا عبدالغنی برادر آخوند، معاون اقتصادی رییس‌الوزرا و شماری از مقام‌های امارت اسلامی، خبر داده است.معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا پروژه نیله‌باغ را در راستای آبادی و پیشرفت کشور یک گام مهم عنوان کرده است.
ملا عبدالغنی برادر آخوند، معاون اقتصادی رییس‌الوزرا در مراسم گشایش کار این پروژه گفت، امارت اسلامی در کنار صنعت، زراعت، برق و تجارت، در بخش پروژه‌های ساختمانی نیز زمینه سرمایه‌گذاری را برای سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی فراهم کرده است.
گفتنی‌است که پروژه نیله‌باغ از پروژه‌های رهایشی در کابل است که با سرمایه‌گذاری بلاعوض کشور چین ساخته می‌شود.
این پروژه با سرمایه‌گذاری ۷۱ میلیون دالر و با ساخت ۵۶ بلاک زمینه زندگی را برای یک‌هزار و ۴۰۰ خانواده، فراهم می‌کند. قرار است کار این پروژه در سه سال به پایان برسد.

## پکتیا کې د ځنګلونو د غوځونې لړۍ نږدې صفر شوې



د پکتیا ولایت د ځنګلونو ساتنې قطعې مسوولین وایي، چې د تېرو دوو کلونو پرمهال یې دغه ولایت کې ۹۵سلنه د ځنګلونو د پرې کولو مخه نیولې او په تړاو یې ۵۲ کسان نیول شوي هم دي.
بلخوا د پکتیا د ځنګل‌مېشتو سیمو ځیني اوسېدونکي د ځنګل ساتنې قطعې پر جوړېدو خوښ دي، خو له سرپرست حکومت غواړي چې د یادو سیمو خلکو لپاره بدیلې پروژې پلې کړي. د پکتیا د کرنې ریاست د مسولینو په خبره، پکتیا کې د یوې سروې له مخې ۹۹زره هکتاره ځنګلونه شتون لري چې ځیني برخې یې د تېرو څو لسیزو جګړو او ځیني د خلکو له‌خوا له‌منځه وړل شوي دي. ۳مخ

## سازمان ملل متحد ٦ فیصد بودجه مورد نیاز افغانستان را دریافت

سازمان ملل متحد اعلام کرده است که این سازمان تاکنون تنها به شش درصد بیش از سه میلیارد دالر بودجه مورد نیاز برای ارائه کمک‌های بشردوستانه به افغانستان دست یافته است.این سازمان از جامعه جهانی خواسته تلاش‌ها برای حمایت از مردم افغانستان را افزایش ص۳


د مدینې پر لور ۲

افغان اعلانات ۳

د اختر فلسفه، ارزښت ، آداب او لمانځل ۲


## فاریاب ولایت کې تېر کال نږدې ۲۳۳ زره تذکرې وېشل شوې دي



د فاریاب ولایت د احصایې او معلوماتو ریاست په ۱۴۰۲ لمریز کال کې په ټولیز ډول ۲۳۲ زره او ۹۷۸ کسانو ته تذکرې وېشلې دي، چې ۱۲۵ زره او ۷۱۹ الکترونیکي او ۱۰۷ زره او ۲۵۹ یې کاغذي تذکرې دي.د فاریاب ولایت د احصایې او معلوماتو رییس مولوي عبدالباري انقیادي وایي چې هره ورځ له ۳ زرو زیات ۳مخ

## برگزاری نشست ی به منظور هماهنگی با شرکت های قراردادی در اداره امور

معاون ریاست عمومی اداره امور در نشست هماهنگی با شرکت های قراردادی گفت: امارت اسلامی تامین عدالت اجتماعی، تطبیق شریعت اسلامی، حقوق اتباع، تامین امنیت، مبارزه با فساد اداری به عنوان یک داعیه برحق دنبال می کند.دفتر مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امور با نشر این خبر گفته است: ریاست تدارکات ملی نشست هماهنگی را با نمایندگان بیش از ۵۰ شرکت برنده در پروژه های مربوط وزارت دفاع ملی، شرکت برشنا، شاروالی کابل و ادارات دیگر برگزار کرد.
مولوی سیف الله تایب معاون انسجام اداره امور گفت: امارت اسلامی تامین عدالت ص۳

## سرمقاله

## وحدت او ولسي ملاتړ هرډول بهرني ګواښونه ځوابولی شي!

ښایي موږ له څو لسیزو راهیسې همدغسې حالت سره عادي شوي یو چې زیاتره نړۍ مو پرخلاف ولاړه، رسمي نړیوال تعامل مو بیخي کم او شپه او ورځ مو آسمان ته سترګې نیولې چې کله د یرغلګر بمي یا توغندیزګوزار راباندې کېږي، یابه کله د چا مرسته راځي ، مطلب همېشه داغیارو رحم وکرم نه پراته یو، خو په حقیقت کې دا خورا بدترین حالت دی. دا وضعیت باید عادي ونه ګڼو، ښه په جدي ډول غور پرې وکړو او له حکومتي چارواکو رانیولې ترکمزوري ولسي وګړي پورې هرفرد باید له دې حالت نه د ځان اوټول ملت د خلاصون لپاره څه لاره اوعلاج وټاکو، دغه راز همدغه بهرني فشارونه باید لامل شي ترڅو لویان مسؤلین د خطر په احساسولو له کبر، زورواکۍ او پرخلکو ظلم وجبر نه توبه وباسي او د رعیت هروګړی د خپلو امیرانو ترڅنګ ودرېږي اوښه اطاعت یې وکړي. مطلب دا چې موجوده بهرني فشارونه باید د ګرد افغان ولس ترمنځ د وحدت د ټینګښت او په حکومت کې د ښه تنظیم باعث وګرځي. حقیقت دادی چې په همدې توګه هربهرني خطر باید دټول ملت ترمنځ دخپل منځي وحدت او نظم روحیه پیاوړې، ټول بیدار او خپلې دفاع ته په تمامه معنا ښه چمتو او په دې لار کې د نرمښتونو رامنځ ته کولوته وهڅوي. تردې چې آن زموږ ټول رسنیز وسایل او چینلونه هم باید دعام ولس توجه د بهرنیو ګواښونو خواته وراواړي څو په دې ډول له خپل جزوي اختلافاتو تېر، له وړو نانډریو او ګیلو، کیسو منصرف اوفقط د خپلې شریکې دفاع لارو چاروته متوجه وي. په دې اساس بیا نو که واقعاً د ملت په ټولو پرګنو کې خپل منځي پیوستون محکم شو، عام ولس حکومت او نظام خپل وباله او پرمشرانو یې باور پوخ شو، دا نو بیا یوه داسې وسیله ده چې پرمټ یې هرډول بهرني ګواښونه ځوابولی اوخپل ملت له هرډول ستونزو راوېستلی شو، ځکه کله چې په یوه ملت اوهېواد کې ملي وحدت ټینګ او خلک د نظام ترڅنګ ښه په اخلاص ولاړ او هغه بالکل خپل ځانې حکومت وګڼي، بهرني دښمنان به یې نه د هوایي بمباریو په زور اشغال کړی شي اونه د ځمکنیو یرغلونو په وسیله، خو که عام ولس له نظامه مخ واړوي، پر دې خپل خواخوږي ومني او د یرغلګرو پلې لښکروسره اوږه پراوږه روان شي، خامخا به خدای دې نه کړي یوځل بیا هماغسې حالت راځي لکه تېرو شلو کلوکې مو چې تجربه کړ.
یاد ساتئ چې کبر، انانیت، خلکو سره مشوره نه کول اوبې عدالتي پردیو ته لارهواروي او د نظام دسقوط لامل ګرځي.

## ځاځي ښارګوټي ساحه کې نږدې ۲۰۰ جریبه ځمکه له غصبه ازاده شوه

عدلیې وزارت په یوه خبر کې ویلي چې د کابل په ختیځ کې د ځاځي ښارګوټي په ساحه کې یې ۱۶۸ جریبه ځمکه له غصبه بېرته راګرځولې ده.
د عدلیې وزارت د کابل په ختیځ کې د ځاځي ښارګوټي په ساحه کې د څه باندې ۱۶۸ جریبه غصب شوې ځمکې د استرداد خبر ورکړی دی.
یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د دولتي غصب شویو ځمکو قضیو ته د رسیدګۍ ځانګړې محکمې، د کابل ښار په ۲۲مه ناحیه کې د حبیب الله ځاځي پارک او ښارګوټي د څه باندې ۹۴۰ جریبه ځمکې پرسر د ځمکو د غصب د مخنیوي کمېسیون د دعوا په بررسۍ سره، د هغه ۵۲۲ جریبه ځمکې د سندونو او قبالو له مخې شخصي او پاتې یې امارتي وبلله.سرچینې زیاته کړه، چې د ځمکو ۳مخ

## یوه میاشت کې څه باندې ۲۰۰ ناچاپ ټانکر تېل ایران ته ورګرځول شوي



د ستندرډ ملیاداري د اعلامیو له مخې، په نژدې یوه میاشت کې یې د نیمروز او فراه ولایتونو پر پوله ایران ته د بې کیفیته تیلو۲۴۳ ټانکرونه ورګرځولي دي. یادې اداري سوداګرو ته خبرداری ور کړی، چې د بې کیفیته سون توکو له واردولو دې ډډه وکړي. د ستندر اداري د شمېرو له مخې په نږدې یوه میاشت کې یې د بې کیفته تیلو ۱۳۸ د ټانکران د فراه ولایت له شیخ ابونصر فراهي بندر له لارې او ۱۰۵ ټانکره د نیمورز له وربښم پول ایران ته بیرته ګرځولي دي. دغه اداري پر خپله ایکس پانه‌لیکلي، چې د حیرتان پولې له لارې یې څه باندې۲۱ ټنه کیلوګرامه ګاز ازبکستان او د هرات د تورغندۍ له لارې یې هم شپږ ۳مخ

# د مدينې پر لور

**نهمه برخه – ليکوال: سيد ابوالحسن ندوي رحمه الله**
**ژباړن: محمدصادق طارق**

اقبال د معاصرو مسلمانانو تاريخ تر څېړنې او کتنې لاندې نيسي، داسې څه په کېويني چې هر مسلمان پرې شرمېږي او د محمدي رسالت له لوړو ښوونو سره هېڅ رنګ سمون نه لري لکه شرک، د غير الله عبادت، د ظالمو حاکمانو ستاينه او داسې نورې کړنې چې له امله يې د هر غيرتمن انسان په تندي عرق روانيږي.

اقبال دا هر څه يو په يو يادوي، سر کښته اچوي او په زغرده اعتراف کوي چې ای د الله تعالی رسوله! لنډه دا چې موږ امت دې ستا له شأن سره جوړ نه يو.

ننالم از کسی می‌نالم از خويش
که ما شايان شأن تو نبوديم

هغه اسلامي نړۍ ته ځغلنده نظر اچوي؛ کومه نړۍ چې هر ګوډ ته يې مسافر شوی او ټول مراکز يې ورته معلوم دي، هغه د اسلامي نړۍ د معنوي ضعف او فقر له امله ژاړي او اجمالاً وايي: په روحي مرکزونو (خانقاوو) کې د زړه غذا او د ميني رسالت نه موندل کيږي، په علمي مرکزونو (ديني مدرسو او پوهنتونونو) کې ابتکار نه تر سترګو کيږي او د شعر او ادب په مجلسونو کې د داسې اشعارو څرک نشته چې چا کې د لوړ خيال همت را ژوندی کا بلکې ټول ساړه اشعار دي چې د مړ زړې اديب له خولې راوځي.

سبوی خانقاهان خالی از می
کند مکتب، ره طی‌کرده را طی
ز بزم شاعران افسرده رفتم
نواهای مرده بيرون افتد از نی

وروسته وايي: د اسلامي نړۍ هر ګوټ کې وګرځېدم خو داسې مسلمان مې پيدا نه کړ چې مرګ ترې وډاريږي.

به آن بالی که بخشيدی پريدم
به سوز نغمه‌های خود تپيدم
مسلمانی که مرگ از وی بلرزد
جهان گرديدم و او را نديدم

اقبال د مسلمانانو د کمزورتيا او خواشينيو لامل په ګوته کوي او وايي: هغوی زړونه لري خو محبوب نلري يعنې د محبت ماده پکې شته خو داسې محبوب چې محبت پرې نثار کړي نه يې لري نو ځکه سرګردان او حيران دي او د ژوندون له خوند او سکون څخه بې برخې دي. يقيناً څوک چې په زړه کې د محبت ماده نه لري يا محبوب نه پيژني چې محبت پرې نثار کړي په همدغسې برخليک به اخته شي.

شبی پيش خدا بگريستم زار
مسلمانان چرا خوارند و زارند؟
ندا آمد نمی دانی که اين قوم
دلی دارند و محبوبی ندارند

خو هغه د ګڼ شمير مأيوس کوونکو لاملونو سربېره بيا هم د مسلمانانو څخه مأيوس او د الله له رحمت څخه ناهيلې نه ؤ بلکې د دين له رجالو څخه انتقاد کوي چې ولې د مسلمانانو څخه ناهيلې دي، د هغوی له ويښولو يې اميد قطع کړی او سترګې يې نورو ته اړولی دي! د همدغسې خلکو اړوند په درد وايې:

نگهبان حرم معمار دير است
يقينش مرده چشمش به غير است
ز انداز نگاه او توان ديد
که نوميد از همه اسباب خير است
نور بيا ...

# تاکيد علما و مسئولان امر به معروف به ترويج فرهنگ حجاب و وحدت مسلمانان

**داوودناظری**

مسئولان وزارت امر به معروف و نهی از منکر روز شنبه هژدهم حمل در يک گردهمايی بزرگ علما، فرهنگيان و مبلغان اهل تشيع در برچی، گفتند قران کريم قانون کامل و جامع و قانون اساسی مسلمانان است و هر آيه آن واجب‌الاجرا است. اين مراسم که در مدرسه دارالمعارف اهلبيت در برچی تحت عنوان اقامه معروفات و ازاله منکرات برگزار شده بود، گفته شد که علمای اهل تشيع و تسنن به عنوان وارثان انبيا، مکلف هستند که ارزش‌های دينی به خصوص حجاب را در جامعه ترويج و تبليغ کنند.

مولوی محمد يحی عارف نماينده وزارت امر به معروف دراين مراسم گفت، قران کريم با اتفاق همه مسلمانان قانون اساسی است و قانون بايد تطبيق گردد. وی گفت تمامی اوامر و نواهی که صورت می‌گيرد محدوديت نه بلکه يک برنامه و دستور الهی است که از سوی خداوند(ج) واجب شده است. وی گفت محتسبين امر به معروف فقط مسئوليت اجرايی دارند و روز قيامت از آنان سوال می‌شود. وی تاکيد کرد که علما، فرهنگيان، رسانه‌ها، مبلغان و خانواده ها بايد در تطبيق اوامر قرآن کريم تلاش کنند و تلاش‌های امريکا و غرب را در نابودی مسلمانان و فرهنگ قران ناکام سازند.

حجت الاسلام محمد آصف مصباح رئيس مساجد و تکايای اهل تشيع در وزارت حج واوقاف در اين مراسم گفت، رعايت حجاب از جمله واجبات است و دارای اثرهای مثبت فراوان در بخش های روانی، اجتماعی، امنيتی و روحی مردم دارد. وی تاکيد کرد که برگزاری جلسات و هماهنگی با تمامی علمای مساجد کشور و خطيبان نمازهای جمعه جريان دارد تا به گونه کامل حجاب را در کشور تطبيق کنيم و از مزايای آن بهره مند شويم.

داکتر حليمه واعظ زاده در اين مراسم سخنرانی کرد و خطاب به زنان گفت، ما مسلمان هستيم و در کشور اسلامی زندگی می‌کنيم؛ پس بايد بدون معطلی دستورات قرآن کريم را تطبيق و عملی سازيم. به گفته وی در باره رعايت حجاب آيات زيادی در قران کريم آمده که همه خانواده ها مکلف به رعايت آن هستند و بايد بالای دختران و زنان شان تطبيق کنند.

در اين مراسم همچنان تاکيد شد که قرآن به عنوان يک محور مشترک، بايد همه مسلمانان وحدت خويش را بر اين محور حفظ کنند.

# د لاجوردو لاره د بين المللي جيوپولټيک په رڼا کې

**دويمه برخه – ثناءالله عمران**

**د افغانستان لپاره د لاجوردو لارې ارزښت**

افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی چې په وچه کې راګېر دی او د خپل تجارت او ټرانزيت د جهتونو ټاکلو له‌پاره اړه دی چې ښو اوبيزو مسيرونو ته لاره پيدا کړي. د هغه سياسي او ټرانزيټي ننګونو له امله چې هند بحر په مسير کې شته دي، افغانستان دې ته اړ دی چې د نورو اوبيزو بديلو لارو په لټه کې شي، خپلې اړيکې د صعنتي او د نړۍ له نور هيوادونو سره ټينګې کړي او په دې برخه کې چې کوم حقوقي کنوانسيونونه ــ ATTA او APTTA ــ افغانستان د پاکستان سره لاسليک کړي چندان نتيجه يې نه ده ورکړې او وخت ناوخت د پاکستان له لوري د ياد هيواد ټرانزيټي لارې د فشار د وسيلې په حيث استعمال شوي دي.نو ويلی شو چې په دې برخه کې د لاجوردو لاره يو د مهمو بديلونو څخه ګڼل کېږي چې پر مټ يې افغانستان کولی شي له ټرانزيټي محاصرې څخه ځان وژغوري او په يو بين المللي ټرانزيټي او سوداګريز موقعيت ځان واړوي.پر همدې بنسټ کولی شو د لاجوردو د لارې اهميت د افغانستان لپاره په څو ټکو کې خلاصه کړو:

**لومړی؛** د لاجوردو لاره د اروپا، د افريقا د شمالي هېوادونو سره د افغانستان د وصل تر ټولو لنډه، ارزانه او مطمئنه لار ده. څېړنې ښيي د نورو لارو په مقايسه د لاجوردو پر لار تجارتي اموال درې تر څلور ورځو په لږ وخت کې اروپا ته رسيږي او هر بارورونکي موټرو په لګښت کې د زرو تر دوو زرو ډالرو کموالی راځي.

**دويم؛** په تېر کې د لاجوردو لارې په اړه يو هوکړه ليک لاسليک شوی و چې د هغه پر بنسټ غړيو هيوادونو منلې وه چې پر افغاني توکو باندي به هيڅ ډول تعرفه يا محدوديت نه وضع کوي او د افغانستان لارۍ به پرته د کوم ګمرکي خنډ يا موانع څخه کولی شي د يادو هېوادونو څخه په هره يوه کې بارګيري يا اموال تخليه کړي.که د دې لارې په بيا فعالېدو سره متقابل امتيازت خوندي شي، ډېر اغېزناک او دوامداره به وي.

**درېيم؛** د دې لارې په پراختيا او بيا فعالېدو سره افغاني توليداتو ته نوي بازارونه پيدا کېږي،دغه لار افغانستان د شوروي اتحاد د اروپائي برخي سپوږ مکيو ،اروپا يي هيوادونو او د افريقا د شمال هيوادونه سره نښلوي او همدا ډول د دې لارې په اوږدو کې کسپين سمندرګی به افغانستان د روسې او د ايران د شمال سره ونښلوي.لنډه چې دغه لار به کور دننه توليداتو سره د غړو او نورو هېوادونو مارکېټونو ته په لاس رسي کې د پام وړ مرسته وکړي.

**څلورم؛** کور دننه به باکيفيته او ارزانه توکو ته هېوادوال لاس رسی پيدا کړي چې دا په خپله پر بازار او د خلګو پر ژوندانه مثبت اغېز پريږي.

**پنځم؛** د لاجوردو لارې څخه په استفادې هغه هيله او ليد چې غواړي افغانستان د سيمې په تجارتي او ټرانزيټي څلور لارې بدل شي د تحقق لوري ته به تقرب وکړي او له دې درکه به د پام وړ عوايد ترلاسه شي، چې دا چاره په تير کې د اشغالګرو او ناامنۍ د شتون له امله د جدي خنډ سره مخ وه.

**شپږم؛** اړوند مسير کې به مېشتو خلکو ته د کار زمينه برابره او ورسره اقتصادي خوځښت رامنځ ته شي.

**اووم؛** د لاجوردو لار افغانستان ، پاکستان او ايران د لارو د اموالو د لېږد په برخه کې د اتکاء څخه راباسي ــ افغانستان له ټرانزيټي انحصار او احتياج ژغوري ــ او د لګښت له اړخه هم د پاکستان له لارې د توکو لېږد ګرانبيه دی نسبت لاجورد لارې ته.

**اتم؛** د افغانستان د سيمه ييزي همکارۍ ابتکار غونډې په دوام د لاجوردو لارې بيافعالېدل به د سيمه‌ييزو نوښتونو په برخه کې افغان حکومت ته بله لويه لاسته راوړنه شي. افغان حکومت د فعاله اقتصادي ډيپلوماسۍ له لارې کولی شي يادې موخې ته ورسيږي او د سيمې په کچه د اقتصادي يووالي په برخه کې ورڅخه ښه ګټنه وکړي.

**نهم؛** دا لاره به د افغانستان د ټرانزيټي او تجارتي شريکانو د ډېرېدو لامل شي او معلوم داره د سيمې د هيوادونو تر منځ اقتصادي وضعيت به مثبت اغېز وشندي او بالاخره به سيمې هاخوا هېوادونو د اقتصادي بافت او نږدې کېدو لامل وګرځي.

# د اختر فلسفه، ارزښت ، آداب او لمانځل

**ليکوال: مولوي نورالحق مظهري**

**د اختر د ورځې فلسفه:**

د اختر ورځ هغه ورځ ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسلمانانو لپاره د خوشالۍ او خوشبختۍ ورځ نومولې ده لکه څنګه چې د ابو داود شريف په حديث کې راځي: کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته راغی خلکو دوې ورځې چې ورځ د نوروز او اوله ورځ د ميزان وه په اختريزو ځانګړيو مراسمو باندي لمانځلې رسول الله صلی الله عليه وسلم پوښتنه وکړه چې دا کومې ورځې دي چې تاسو يې لمانځئ؟ هغوی وويل: موږ په جاهليت کې لمانځلې نو اوس يې هم لمانځو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: الله پاک تاسو ته د دغو ورځو په بدل کې تر هغو غوره دوې نورې ورځې درکړيدي چې تاسو يې د ځان لپاره اختر ونيسی او په اختريزو مراسمو باندي يې و لمانځئ چې د کوچني او د لوی اختر ده.

نو له هماغه ورځې څخه په اسلام کې د اخترونو په صفت همدغه دوې ورځې پېژندل کېږي او په اختريزو مراسمو يې لمانځل مسلمان ته روا کېږي نورې ورځې چې ځينې خلک ورته اختر وايي او په اختريزو مراسمو يې لمانځې په اسلام کې کوم ثبوت او ارزښت نه لري او مسلمان يې بايد د لمانځلو څخه په کلکه ډډه وکړي په خاصه توګه د نوروز غونډي د کفارو عقيدوي ورځ چې مسلمانانو ته يې په هيڅ صورت لمانځل ندی روا.

په خلاف د هغو خلګو چې عقيدې يې ضعيفې وي، د اسلام د دين په کامله کېدلو يې سر نه خلاصيږي او د ژوند په ټولو برخو کې د اسلام د دين بسيا او خود کفايي ورته نه معلوميږي دوی هغه ورځې لمانځي کومې چې په اسلام کې نه تنها دا چې ثبوت نه لري بلکې د ځينو د لمانځلو څخه خو صراحتا ممانعت راغلی وي او اسلام و هيڅ مسلمان ته د دې اجازه نه ورکوي چې هغه ورځې دي په ځانګړيو اختريزو مراسمو باندي و لمانځي آن تر دې چې د دې اجازه لا هم نسته چې د اختر په نامه يې ونوموي.

همدا راز اختر د دې لپاره مشروع شوی دی چې مسلمانانو ته د روژې د تېرېدلو وروسته الله پاک طبعي او معنوي خوشالي ورکړي، ځکه چې په روژه کې مسلمان په نه خوړلو، نه څښلو او شهوت نه پوره کولو باندي مقيد وو چې د اختر په راتګ سره دغه قيد ورڅخه پورته کيږي، او همداسي اختر وروسته تر هغه راځي چې مسلمانانو يوه مياشت پوره د الله پاک د امر اطاعت کړی دی چې حيثيت د کار لري او دا معلومه خبره ده چې کارګر ته چې د کار وروسته مزدوري ورکوي دا د هغه لپاره ځای د خوشالۍ دی.

ودې حکمت ته په لاندې حديث سره اشاره سوېده: إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا وَهَذَا عِيدُنَا.[صحيح البخاری] يعنی د هر قوم لپاره اختر شته زموږ اختر دغه دی.

**د اختر د ورځې ارزښت:**

د اختر ورځ ډېر ارزښت لري په ځانګړې توګه د کوچني اختر ورځ چې مسلمانانو ته د الهي وجيبې څخه د فراغت وروسته د اجرت او مزدورۍ اخيستلو د ورځې حيثيت لري لکه څنګه چې د شعب الايمان په حديث شريف راغلي دي: الله پاک د روژې مياشتي په هره شپه کې په زرګونو هغه خلک د اور څخه آزادوي چې هغوی د اور لايق وه کله چې وروستۍ ورځ د رمضان شي الله پاک دومره انسانان د اور څخه آزادوي څومره يې چې د روژې د لومړۍ ورځې څخه بيا تر اوسه آزاد کړيدي.

کله چې د اختر سهار سي الله پاک هر ځای ته خپلې ملائکې ليږي، ملائکې د سړکانو او کوڅو پر سرو باندي دريږي او داسې آواز کوي: ای امته د رسول الله صلی الله عليه وسلم! را ووځئ او د خپل پروردګار لوري ته راشئ چې ستاسو د نيکو اعمالو ښه مزدوري درکوي او ستاسو ګناهونه در بخښي.

کله چې خلک د عيدګاه لوري ته حرکت کوي الله پاک خپلو ملائکو ته وايي: جزا د هغه چا څشئ ده چې خپل ورکول سوی کار سم سر ته ورسوي؟ چې دا اشاره د روژې مبارکې مياشتي ته ده چې امت د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې مياشتي کې روژه نيولې ده. ملائکې ورته وايي: ای الله! د داسې خلکو جزا دا ده چې مزدوري يې بايد ورکړل شي. الله جل جلاله فرمايي: ای ملائکو! تاسو ګواهان او شاهدان وسئ چې زه دوی ته د روژې او عباداتو د ثواب په بدل کې خپله خوشالي او بخښنه ورکوم!.

او الله جل جلاله وفرمايي: ای زما بندګانو! نن ورځ تاسو زما څخه غوښتنه وکړئ! زما دې په خپل عزت او لويی قسم وي چې په دې ورځې کې تاسې د خپل آخرت په اړه يو شی نه غواړئ مګر دا چې زه يې درکوم او تاسي د خپلې دنيا لپاره يو شی نه غواړئ مګر دا چې زه يې ستاسي لپاره په نظر کې نيسم.

زما دې په خپلې لويی سره قسم وي تر هغه وخته پورې چې تاسې زما ذکر کوی زه به ګناهونه ستاسي څخه ليري کوم او زما دې قسم په خپلې لويی سره وي چې هيڅ وخت به تاسي نه رسوا کوم.

کله چې د اختر لمونځ آداء سي او لمونځ کوونکې د خپلو کورونو پر لوري حرکت وکړي الله پاک ورته وايي: ولاړ شئ ما و تاسي ته بخښنه کړې پداسي حال کې چې تاسي زما څخه خوشال ياست او زه ستاسي څخه خوشال يم.

نو بايد هر مسلمان چې په دې ورځی کې په داسې ځای کې وي چې هلته د اختر لمونځ کېږي ځان و عيدګاه ته ورسوي او د اختر لمونځ آداء کړي تر څو د يادو فضايلو او ثوابونو څخه برخمن شي.

**د منکراتو څخه د ځان ساتنه:**

کله چې الله پاک پر انسان خپل خاص رحمت وکړ او داسي ورځ يې ورکړه لکه ورځ د اختر نو د انسان لپاره هم دا لازمه ده چې د الله پاک شکر پر ځای کړي چې يقينا د شکر په آداء کولو باندي د انسان لپاره د الله پاک رحمتونه او نعمتونه ډيريږي لکه د آيت مفهوم چې همداسي دی: چې ای بندګانو که چېري تاسي زما شکر آداء کړ نو زه به خپل نعمتونه نور هم درباندي ډېر کړم او که مو کفران د نعمت وکړ بيا نو پوه سئ چې زما عذاب ډېر سخت دی.

د الله پاک د شکر آداء کول په لاندې شيانو باندي کولای شي:

- د اختر په ورځو کې بايد د اسراف څخه ځان وساتو، د شيرينۍ او ځينو خوراکي توکو په رانيولو او استعمالولوکې اعتدال مراعات کړو، که څوک د ځان او خپل کور لپاره شيريني رانيسي نو د بل مسکين غم هم بايد ورسره وي، د دې پر ځای چې پر شيرينۍ او خوراکې شيانو ډېري روپۍ لګوي هغه دې و يو مسکين ته ورکړي تر څو مسکين هم ورڅخه خوشاله سي، الله پاک هم ورڅخه خوشاله سي او ځان د الله پاک د رحمت مستحق هم وګرځوي.
- د اختر په مبارکو ورځو کې بايد انسان ځان د بې فايدې او عبثو کارونو څخه وساتي لکه د سپيو، خروسانو، هګيو او نورو حيواناتو د جنګولو څخه، ځکه متقي انسان دا ندی چې نفلي عبادات ډېر کوي بلکې متقي او پرهيزګار انسان هغه دی چې د عباداتو د کولو تر څنګ د محرماتو څخه هم ځان ساتي.
- د اختر په ورځو کې دې د غيرشرعي او ناروا رواجونو څخه ځان وساتي، ځيني داسي مراسم شته چې نه تنها دا چې جايز ندي او فايده نه لري بلکې شرعا حرام او ناروا دي لکه د موسيقۍ محفل جوړول، د شراب څښلو او ورقو کولو مجلس جوړول او دېته ورته نور محافل چې ځينې د دين څخه ناخبره خلګ يې په دې مبارکو ورځو کې جوړوي.

همدا راز په دې ورځو کې ځيني خلګ فاتحه نيسي چې داکار هم شرعا نه دی روا ځکه دا ورځې د مصيبت لپاره نه بلکې د خوشالۍ لپاره دي.

- لکه په نورو ورځو کې چې مسلمان لمونځ په جماعت کوي د اختر په ورځو کې هم بايد مسلمان لمونځ په جماعت وکړي او په دې پلمه چې ورځ د اختر ده او زما مصروفيتونه ډېر دي د جماعت پرېښودل ورته نه روا کېږي.
- په ځينو سيموکې داسي رواج دی چې د اختر مخکې د هر چا مړی سوی وي هغه دغه اختر نه لمانځي، نوي کالي نه اغوندي، ځان نه پاکوي او هيڅ ډول اختريز مراسم نه ترسره کوي چې دا غلط کار او غلط رواج دی موږ بايد د دې رواج څخه ځان وساتو.
- همداسي کور ته چې د اختر مخکې يې مړی شوی وي په ځينو ځايونو کې دکلي خلک او امام ټوله په يووار د فاتحې لپاره ورځي سره د دې چې د هغه شرعي درې ورځی فاتحه خو مخکې خلاصه سوې وي دوی هم مخکی تسليت ورکړی وي خو د اختر په ورځ بيا ورځي دا رواج هم هيڅ شرعي ثبوت نه لري او موږ بايد ورڅخه ډډه وکړو ځکه شرعا تر درو ورځو اضافه مصيبت په اسلام کې نشته دا چې څو مياشتي يا اوونۍ وروسته څوک ورځي بيرته يې مصيبت را تازه کوي دا خپله يو غير شرعي عمل دی.

**د اختر د ورځې آداب:**

د دې مبارکې ورځې د آدابو د پر ځای کولو لپاره بايد مسلمان مخکې تر دې چې د لمانځه لپاره عيدګاه ته ولاړ سي غسل وکړي، ښه کالي واغوندي، عطر وکاروي او مخکې تر آداء کولو د لمانځه سرسايه ورکړي.

په دې ورځی کې بايد مسلمان خپل اړ او ناداره ګاونډيان هېر نه کړي ځکه چې په دې ورځی کې نفلي صدقات ډېر ثواب لري.

کله چې عيدګاه ته ځي تکبيرونه دي نه هېروي، پر يوې لارې دي ولاړ سي او پر بلې لارې دي بيرته خپل کور ته راسي، په کوچني اختر کې دي مخکې تر تللو عيدګاه ته څو دانې خرماوي وخوري او که خورماوي نه وي بيا دی بل شی وخوری، خو هر شی چې د خوړلو لپاره ورته برابريږی ډېره ښه خبره دا ده چې په خپل کور کې يې وخوری.

د عيدګاه د لمانځه وروسته چې کله د خپل مسلمان ورور سره مخامخ کېږي د ځان او د خپل مسلمان ورور د عباداتو د قبوليت دعاء دي وکړي ځکه په صحابه وو کې دا رواج وو چې د اختر په ورځ به دوی سره مخامخ کېدل نو يو بل ته به يې ويل تقبل الله منا ومنکم صالح اعمالنا. يعني الله پاک دې زموږ او ستاسي نيک اعمال قبول کړي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د لارښوونو پر اساس بايد هر مسلمان نور مسلمانان د خير کارونو ته تشويق کړي او د بدو کارونو څخه يې را وګرځوي.

**اختر د چا لپاره دئ؟**

يو څوک د اختر په ورځ د حضرت علي رضي الله عنه کور ته ځي چې ګوري مخ ته يې ارزان قيمته او عادي خواړه ايښي دي دا سړی ورته وايي: ای علي(رضي الله عنه) د اختر ورځ ده خو ته د ارزان قيمته خوړو څخه استفاده کوې؟ حضرت علي رضي الله عنه ورته فرمايي:

ای وروره! اختر د هغه چا لپاره دی چې الله پاک يې روژه قبوله کړېوي. بيا يې ورته وويل: نن ورځ زموږ لپاره اختر دی، سبا ورځ زموږ لپاره اختر دی او هره هغه ورځ چې موږ د الله پاک نافرماني په کې ونه کړو زموږ لپاره اختر دی.

همداسي راغلي دي :يعني اختر د هغه چا لپاره نه دی چې نوي کالي واغوندي بلکې اختر د هغه چا لپاره دی چې ډېر اطاعت او بندګي وکړي.

اختر د هغه چا لپاره نه دی چې ډېر دراهم او دنانير لاس ته راوړي بلکې اختر د هغه چا لپاره دی چې د عزيز او غفار الله پاک اطاعت وکړي.

نو د هغو خلګو لپاره دي خوشالي او مبارکې وي چې د رمضان روژه يې نيولې وي عبادت يې کړی وي، د مساکينو او فقيرانو سره يې مرسته کړې وي او پوره تقوی يې لاس ته راوړې وي ځکه اصلي اختر هم د دوی دی.

**د اختر د ورځی پيغام:**

د اختر ورځ د مسلمانانو لپاره د يووالي او اتحاد د ثابتوالي ورځ ده، د اختر ورځ د توبې او مغفرت ورځ ده، د اختر ورځ د نورو اړو مسلمانانو د حاجت پوره کولو ورځ ده.

دېته بايد تل ډېره پاملرنه ولرو چې مسلمانان بايد هميشه د دښمنانو په مقابل کې خپل يووالی او اتفاق په ثبوت ورسوي په ځانګړې توګه پداسي ورځو کې چې د اجرت او مزدورۍ ورځ يادېږي، هغه ورځ چې مسلمانان په يو ځاي کې په يوه امام پسې د اختر لمونځ آداء کوي چې دا خپله پر فکري، عقيدتي او سليقوي وحدت او يووالي باندي دلالت کوي او د دې ښکارندويي کوي چې مسلمانان د ځايونو، قومونو، رنګونو او ژبو د توپير سره سره د يوې کورنۍ په شان دي او دا بايد موږ مسلمانان د ځان وظيفه وبولو چې ټوله اوږه پر اوږه په عيدګاه کې په يوه امام پسې د اختر لمونځ آداء کړو او بيرته په ډېري خوښۍ او خوشالۍ سره خپلو کورونو ته ستانه سو.

## با تطبیق پلان های ...

هم می کنیم کفایت نمی کند.»وی می افزاید «شـرکت های آب رسـانی مشکلات مردم را تا اندازه حل کرده، اما در این اواخر نیز با مشـکلات روبرو هسـتند و از مسوولین مربوطه می خواهم تا سـکتور خصوصی را که به مشکلات مردم رسـیده گی می نمایند، حمایت کنند.»عبدالشـکور صافی یک تن باشـنده دیگر ناحیه ۱۷، گفت» کمبود آب قبلا هم بود، خوشبختانه شرکت های آب رسانی در این ساحه ایجاد شده و با آب رسانی شان در این منطقه مشـکلات مردم را حل کرده اند اما از مدتی بدینسـو به نسبت کار احداث یک سرک در این منطقه که در کندن کاری آن پیپ ها از بین رفته و شـرکت آب رسانی را اجازه نمیدهند که آنرا وصل سازد، مردم خیلی ها با کمبود آب مواجه شده اند.»موصوف از مسوولین امارت اسلامی خواست تا تسهیلات لازم کاری و رشد سکتور های خصوصی را در راستای حل مشکلات مردم فراهم ساخته و از شهروندان نیز خواست تا از مصرف های بی جا آب خود داری نمایند.
با این حال چالش کمبود آب و راه حل دایمی آبرسانی اساسی برای مردم را، از مسولین شرکت های آبرسانی پرسیدیم اما آنان در پاسخ ما اذعان داشتند» که چندین سال می شود جهت حل مشکل شهروندان؛ ارایه خدمات آبرسانی را برای مردم انجام میدهیم اما در این اواخر بعضی قیودات از سوی شاروالی کابل بالای ما وضع شده که از توان ما بالا است.»محمد نذیر کریمی رییس شرکت خدمات آبرسانی خراسان هندوکش که در شمال کابل خدمات آبرسانی را برای مردم ارایه می نماید، گفت» تقریبا ۱۸ سـال می شود که در ساحه کوتل زنده گی می نمایم و مردم این منطقه به شمول خودم همیشه به کمبود آب مواجه بودیم و قیمت حفر چاه ها خیلی بالا بود و اقتصاد مردم پائین، ما بخاطر رفع مشکلات مردم به ایجاد مخزن اقدام کردیم و مدت ۵ سـال می شود که برای مردم خدمات آبرسـانی را انجام میدهیم.»وی می افزاید که در این شرکت مبلغ ۳ و نیم لک دالر را سرمایه گذاری کرده و تقریبا برای ۶۰۰ خانواده مطابق قوانین وزارت انرژی و آب خدمات آبرسانی ارایه می کند. اما میگوید که در این اواخر بعضی قیودات را مسوولین مربوطه از قبیل تعین انجنیر مسلکی، در هر ۱۰ خانه بعد؛ حفر یک چاه جذبی، کروکی سـاحه و تعداد هر فامیل باید مشخص شود وضع شـده که از توان شان بالا است. موصوف همچنان اذعان داشت: «آب ساحه کوتل بی حد پائین و کم است و تقریبا ۱۵۰، ۱۷۰ و ۲۰۰ متر چاه های آب ما خشک شدند و سطح آب پایین است و با وجود اینکه شرکت ما با تمام قوانین وزارت انرژی و آب خود را عیار ساخته اما باز هم مشکلات سد راه ما وجود دارد.»
کریمی از مسولین مربوطه می خواهد تا شرکت های ابرسانی را ازاد بگذارند تا با خیال راحت تحت چتر وزارت انرژی و آب خدمات را برای مشترکین انجام بدهند و پیشنها می نماید که بخاطر رفع مشـکلات مردم در آینده، امارت اسلامی در همکاری با موسسات در انتقال آب دریای پنجشیر و سالنگ اقدام نمایند و یا هم چند سرمایه گذار شرکت های آبرسانی را در این زمینه یکجا ساخته و تشویق نمایند. محمد داوود نظری رییس شرکت آبرسانی فرهیخته گروپ که در غرب کابل خدمات آبرسـانی را نیز انجام میدهد، در پیوند به پرسش های ما و نگرانی هـای مردم در خصوص کمبود آب چنین می گویـد» در کل ۲۰ هزار خانه یا حویلی را در قسمت های ناحیه ۵، ۱۳، ۶ و ناحیه ۳ تحت پوشش خدمات آبرسانی قرار داده ایم و بصورت متوسـط ۳۰۰ هزار نفر در غرب کابل از خدمات آبرسانی ما مستفید می شوند.» او گفت» مشکل آبرسانی مشکل جدی است، در یک سال اخیر آب ۸۵ تا ۹۰ فیصد کم شده است. وی اضافه کرده گفت: برنامه یی را روی دست داشتیم تا از گل باغ، تنگی صیدان، قلعه شاغاسی و آب چشـمه، آب را به کابل انتقال دهیم اما اجازه کار برای ما داده نشـد وی اشاره نمود که نواحی که ما کار می کنیم غیر پلانی است و یک بخش مربوط شاروالی و بخش دیگر مربوط وزارت انرژی و آب می شود.وی علاوه کرد که هر ناحیه در خصوص آب رسانی پالیسی خود را دارد و یک برنامه واحد در این زمینه و جود ندارد.وی نگرانی خویش را در خصوص بحران آب ساحات غرب کابل ابراز نموده، گفت:« در یک الی دو سال اگر تدابیر جدی در نظر گرفته نشود، فاجعه کلان در راه است و نیاز است تا یک برنامه بزرگ و هماهنگی منظم بین مردم و ادارات مربوطه به میان آید.نظری همچنان گفت که حدود ۱۰ میلیون دالر را از پول مردم در ارایه خدمات آبرسانی سرمایه گذاری کرده و ۱۴ سال سابقه کاری در این بخش دارد.وی از مسولین مربوطه می خواهد تا شرکت های شبکه آبرسانی خصوصی را حمایت نمایند و ضمن اجازه کار برای آنان، طرزالعمل مشخص کار شرکت های خصوصی را ترتیب و تامین آب را خارج از کابل چه از طریق شـرکت های آب رسانی و چه از طریق خود شان مهیا سازند.کمبود آب که شهروندان کابل را همه روزه رنج میدهد آنان از مسولین خواستار حل مشکل در بخش آب رسانی استند.با این حال مطیع الله عابد سخنگوی وزارت انرژی و آب گفت: وزارت انرژی و آب به صورت کوتاه مدت برنامه‌های چون؛ نصب فلتر، سیستم ریسایکل و حفر چاه های جذبی آب بالای مصرف کننده های عمده، حفر تقریبـا ۳۶۰۰ چاه های جذبی آب، مهار آب دره ی پشـه ای و سـوق آن به بند قرغه، مهار آب دره ی ارغندی و سوق آن به مخزن ها و درست نمودن و عملی کردن سیستم کنترول آب در حمام ها را روی دست دارد که با تطبیق آن مشکلات کم آبی در کابل تا حدود حل می‌شود.آقای عابد همچنان افزود که به منظور حل دایمی آب شهر کابل، وزارت انرژی و آب پروژه انقال آب پنجشیر به کابل، انتقال آب از بند شاه و عروس و همچنان بند للندر در پلان دارد و در صورت موجودیت بودجه کار عملی آن آغاز خواهد شد.قابل یاد آوریست که کمبود آب مشکل امروزه نیست و از سالیان متمادی الی اکنون ادامه دارد و امیدواری های همگان بر این اسـت تا با انتقال آب دریای پنجشیر به کابل به این معضله نقطه پایان گذاشته شود.

قیس قادری

## وزارت زراعت خدمات ...

افغانسـتان و افغان یونایتد بانک برای کار و بار زراعت و مالداری منظور گردید.
این خدمات مالی اسـلامی به منظور حمایت از دهقانان و مالداران و رشـد و انکشاف بخش زراعت و مالداری در کشور پرداخت می‌گردد.

## ځانګړي ښارګوټي ساحه ...

له غصب څخه د مخنیوي کمېسیون د یادې ساحې په بررسۍ سره موضوع د شرعي او قانوني پرېکړې په موخه اختصاصي محکمې ته استولې وه، چې یادې محکمې د موجودو سندونو، قبالو، دلایلو او شـواهدو په بررسـۍ سـره، د دغې ځمکې ۵۲۲ جریبه شخصي او پاتې یې امارتـي وبلله.د خبرپاڼې د مالوماتو له مخې د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي کمېسـیون د اختصاصي محکمې د پرېکړې په اسـاس، په یاده ساحه کې څه باندې ۱۶۸ جریبه امارتي ځمکه استرداد کړه.
د عدلیې وزارت په خبرپاڼه کې همدارنګه ویل شـوي، چې د امارتي ځمکو له غصب څخه مخنیوی او د غصب شویو ځمکو استرداد د افغانستان اسلامي امارت له اساسي موخو څخه ده، چې د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او د غصب شـویو ځمکو د استرداد کمېسیون په همدې منظور را منځته شـوی دی. د یادونې وړ ده، چې یاد کمېسـیون مسؤولیت لري ترڅو دولتي، عامه مرعي او وقفي غصب شـوې ځمکې له غاصبانو او زورواکو او له غیر شـرعي ذوالید څخه استرداد کړي او دا بهیر د هېواد په ټولو ولایتونو کې په چټکۍ سره دوام لري.

## د روغتیا نړیواله ورځ ...

راوړنې او په دې برخه کې د معلوماتو شـریکول دي.د عامې روغتیا وزیر، ښـاغلي ډاکټـر قلندر عباد ټولو هېوادوالو ته د معیـاري روغتیایي خدمتونو وړاندې کول د دې وزارت دنده وبلله او ویې ویل، اوسـمهال د هېواد په ۴۹۰۰ روغتیایي مراکزو او ګڼ شـمېر دولتي روغتونونو کې هېوادوالو تـه روغتیایي خدمتونه وړاندې کېږي.
ښـاغلي وزیر همداراز زیاته کـړه، چې تېر کال نـږدې اتیا میلیونـه ناروغانو دولتي روغتیایـي مراکزو او روغتونونو ته د درملنې په موخـه مراجعه کړې ده، چې د هېواد د ریښـتیني او با اسـتعداده روغتیایي کارکوونکو او متخصصینـو له لوري یې درملنه شـوې ده.نوموړي همداراز وویل: (( موږ هڅه کوو، چـې د هېواد ټول روغتونونه او روغتیایـي مراکز په عصري طبي وسـایلو سـمبال او له هـرې ممکنې لارې د افغان روغتیایي پرسـونل ظرفیتونه لوړ کړو؛ تر څو په مرسـته یې په کـور دننه ناروغانو ته غـوره خدمتونه وړاندې کړو.)) د عامې روغتیا وزیر همـداراز افغان ډاکټران د هېواد د روغتیایي سـکتور اتلان وبلل او د هېواد له اوسـېدونکو یې وغوښتل، چې پر خپلو ډاکټرانو باور وکړي.

## سازمان ملل متحد ٦ . . .

دهد.در همین حال، نهادهای امدادرسـان می‌گویند که با کمبود بودجه برای ادامه کمک‌ها مواجه‌اند.بحران غزه، جنگ اوکراین و مشـکل خشکسـالی در افریقا، باعث شده است که جامعه جهانی و سازمان ملل از توجه شان به افغانستان بکاهند.

## برگزاری نشست به منظور هماهنگی . . .

اجتماعی، تطبیق شـریعت اسـلامی، حقوق اتباع، تامین امنیت، مبارزه با فساد اداری به عنوان یک داعیه برحق دنبال می کند.او همچنان گفت: ایجاد زمینه کار برای شـرکت های خصوصی در چوکات اصول تدارکات از سـوی ریاست تدارکات ملی تحقق یکی از موارد ارزش های یاد شـده است.قاری عبدالولی صدیقی رئیس تدارکات ملی اداره امور، هدف از نشست هماهنگی با شرکت های برنده در پروژه های قراردادی ادارات را، تاکید بر عملی شدن بهتر قرار داد های انجام شده خواند وگفت: اصول تدارکات و شرطنامه ها در این قرارداد ها باید به شکل همه جانبه رعایت شود.

## پکتیا کې د ځنګلونو . . .

د یادونې وړ ده چې د اسـلامي امارت پر بیاواکمنۍ سـره په ټول هیواد کې د ځنګلونو د ناقانونـه وهنې او قاچاق د مخنیوي په موخه د شـنې قطعې په نامه ځانګړې ځواک جوړ شـوی چې بنسټیزه دنده یې د شنو ونو او ځنګلونو د وهلو مخنیوی دی.

## یوه میاشت کې څه باندې...

ټانکره بې کیفیته تیل ترکمنستان ته ګرځولي دي. ستندړ اداره زیاتوي، چې په تېر ۱۴۰۲ کال کې یې د ټولو بندرونو له لارې ۹۵ زره ۷۸۴ ټانکره نفتي توکي تثبیت کړي، چې له جملې څخه یې ۳۰۴۲ ټانکره بې کیفیته او اړوندو هیوادونو ته ګرځول شوي دي.یادې ادارې پر سوداګرو بیا غږ کړی چې د بې کیفیته توکو له واردلو په کلکه ډډه وکړي.

## بغلان کې د څه باندې ...

پروژې د پلخمرې ښار د لومړي بند او دویم بند د څارنې او ساتنې په برخه کې دي، چې ۵ میلیونه افغانۍ لګښت یې د انرژۍ او اوبو وزارت له پراختیایي بودجې څخه ورکول کېږي.
سیندیزې حوزې ریاست تخنیکي سلاکار په راتلونکي کال کې د لسو پروژو د پلې کولو خبر ورکړ او ویې ویل، چې په دغو پروژو کې د اوبو لګولو د شبکو جوړول، د چکډېمونو او استنادي دېوالونو جوړول او د کانالونو پاکول شامل دي، چې چارواکو له منظورۍ وروسته به په بغلان کې پلې شي.

## داعش سرکوب شده و نباید ...

در این ضیافت افطاری، برعلاوه دیپلماتان خارجی، شـماری از اعضای کمیسـیون سیاسـی امارت اسـلامی و اعضـای کابینه نیز حضور داشـتند، مولـوی عبدالکبیر معاون سیاسـی ریاسـت الوزرابه نمایندگان سیاسـی خارجی کشـور های خارجی گفت: انتظار دارد در سـال روان شـمار دیپلومات ها و سـفرای در کابل از این هم بیشـتر باشند و کشورهای بیشتری سفارت های شـان را در کابل بازگشایی کنند
وی گفت که امارت اسـلامی به اسـاس سیاسـت خارجی اقتصاد محور خود، می خواهد با تمام کشـورها روابط حسـنه داشـته باشـد و کشـورهای منطقه می توانند ابتـکارات منطقه یی را ایجاد و تقویت نمایند.معاون سیاسـی ریاسـت الوزراگفت: امارت اسـلامی علاقمند اسـت که با جهان مناسبات سیاسـی، اقتصادی و فرهنگی داشـته باشـد، در پروژه های منطقوی سـهم گیرد و به حیث نقطه وصل عمل نماید.
به گفته موصوف به همین خاطر باید همسـایگان افغانسـتان اطمینان داشته باشند که امارت اسـلامی به هیچ کسی اجازه نمی دهد که افغانسـتان منبع تهدید علیه دیگران باشـد. مولـوی عبدالکبیرگفت: بعضی از حلقـات در منطقه و جهان برای داعش در افغانسـتان دسـت به تبلیغات می زنند. داعش نه تنها دشـمن افغانستان بلکه دشمن بشـریت، منطقه و جهان اسـت.امارت اسـلامی این گروه را در افغانستان سرکوب کـرده و هیچ کسـی نباید بـه خاطر قوی نشـان دادن و تقویت آن لابیگـری نماید. موصوف گفت: برای آنانی که در افغانسـتان شکسـت خورده انـد، روابط و تعامل گسـترده منطقوی، انجام امور زیربنایی و انکشـافی، از بین رفتن مواد مخدر و فساد و تامین امنیت سراسـری قابل پذیرش نیسـت.معاون سیاسـی ریاست الوزراگفت: درافغانسـتان پس از حاکمیت امارت اسـلامی بسـیار تغییرات مثبت آمده و کشوررا به سـوی مسـیر با ثبات سوق داده اسـت. وی یکبار دیگر از کشورها خواست که از اخـراج اجباری مهاجرین افغان خـود داری کنند و دراین خصوص بادرنظرداشـت قوانین بین المللـی از حوصله مندی کار گیرند.

## برای نزدیک به سه هزار خانواده ...

کمک‌های توزیع شـده شـامل مواد خوراکی و پول نقد بوده است.در خبرنامه گفته شده که این کمک‌ها از سـوی برنامه جهانی غذا برای نیازمندان فراهم شده است.
این در حالی است که دفتر هماهنگ کننده امور بشردوستانه سازمان ملل به تازه‌گی گفته که به هدف رسیدگی اساسـی به نیازهای بشری در افغانستان به ۳۰۶ میلیارد دالر نیاز است.

## فاریاب ولایت کې تېر کال ...

کسـان د الکترونیکي او کاغذي تذکرو اړوند خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه د دې ریاسـت اړوندو دفترونو ته مراجعه کوي.ښـاغلی انقیادي زیاتوي، چې د مرکز په ګډون د دې ولایت په ۱۵ ولسـوالیو کې د دوی اړوند دفترونه فعال دي او تېر کال د یادو دفترونو له لارې توانیدلي دي چې ۴ زره او ۴۹۲ کسـانو ته په کاغذي تذکرو کې د اصلاحاتو او ۷ زرو او ۷۲۱ نورو کسـانو ته د ژوند پېښو (۶ زره او ۱۶۶ زېږون کارتونه، ۱۱۹۳ د مړینې پارچې او ۳۳۸ د واده او ۲۴ د طلاق ثبت) اړونـد خدمتونه وړاندې کړي. د فاریاب ولایت د احصایې او معلوماتو ریاسـت د معلوماتو پر بنسـټ په یاد ولایت کـې د الکترونیکي تذکرو دوې وېش ځانګې فعالې دي چې هره ورځ نارینه او ښـځینه غوښتونکو تـه خدمتونه وړانـدې کوي. په دې وېـش ځانګو کې غوښـتوونکو ته د نویو تذکرو له وېش سـربېره، تر وېش وروسته خدمتونه (د زېږونونو او ودونو ثبت، د مثنـی تذکرې وېش او د عکس تجدیدول) هم وړاندې کېږي. د احصایې او معلوماتـو ملي ادارې د هېواد په کچـه د الکترونیکي تذکرو د وېش لړۍ لرې پرتو سـیمو او ولسوالیو ته غځولې ده چې د یادو سـیمو اوسېدونکي په اسانۍ سره کولای شـي خپلې الکترونیکي تذکرې ترلاسه کړي.

# افغان اعلانات

### اعلان داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی تهیه وتدارک (۲۲) قلم ماشـین آلات مورد ضرورت ورکشاپ های قطعات مرکزی وقول اردو های سـاحوی ازبابت سـال ۱٤۰۳.
نـوع قرارداد: بالمقطـع روش(داوطلبی بـاز اخلی).
شـماره داوطلبـی: وزارت دفـاع ملـی –۱٤۰۳–اجناس–۰۰۸۱–۲۵۲۱۳ اشتراک نموده و آفر های سربسـته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.
آدرس ومدت اخذ شرطنامه: ریاسـت تـدارکات واقع خواجه بغـرا مقیم گارد سـابقه از تاریخ نشـر اعلان الـی ۲۱ یـوم تقویمی به روز های رسـمی از شـروع رسـمیات الی ختم رسـمیات بشـکل کاپی/سافت (CD)اخـذ و همچنـان داوطلبان میتوانند شـرطنامه را از ویـب سـایت وزارت دفـاع ملـی www.mod.gov.af دانلودنمایند.شماره تماس(۰۲۰۲۶۱۲۰۸۶).
تضمین آفر: مبلغ (۶۰۰,۰۰۰) افغانی بشـکل گرانتی بانک اخذ میگردد.
نوت: تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق‌میباشد.
ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشـد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.ضرب العجل تسلیمی آفرها و آفرگشـائی:از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم بعد، قبل از ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر آفر های دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
محل آفرگشائی:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سـابقه بلاک آفرگشـائی.نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه‌نموده‌وهنگام‌تسلیمی‌آفر اسناد‌تقاضاشده‌مندرج شرطنامه‌راتسلیم‌نمایند.

+++++

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسـیله به تأسـی از فقـره (۲) ماده چهل و سـوم قانـون تدارکات به اطلاع عموم رسـانیده می شـود، د افغانستان برشنا شـرکت در نظر دارد تا قرارداد پروژه « تدارک ۳۳ قلـم تجهیزات برقی ضرورت کابل برشـنا «۰۱۰۱ –اجناس/داوطلبی‌باز‌ملی/۱٤٤٥/برشناشرکت» با شرکت تجارتی و ساختمانی قسیم صمیم جواز نمبر ۷۰۹۵۹ و باداشتن محل اصلی تجارتی } سه راهی علاوه الدین، مرکز کابل، کابل } را مبلغ ۹۳۲,۳۸۰ نو صد سی ودو هزار و سه صد و هشتاد افغانی اعطا نماید.اشخاص حقیقـی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشـته باشـند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات د افغانستان برشنا شرکت–دهمزنگ –کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طـی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

++++++

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسـی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسـانیده می شود، د افغانستان برشنا شرکت در نظر دارد تا قرارداد لات سوم کمپلکس ورکشاب شامل ذخیر تانک تیل تعمیر اداری تانک سایبان تانک تیل وبخش برق تعمیر اداری تانک تحت شـماره داوطلبی برشنا/۱٤٤٥/ داوطلبی باز ملی / ساختمان ۰۶ اعلان مجدد را با شرکت ساختمانی عالم حسیب لمتید دارنـده جواز نمبر D-31551 با داشـتن محل اصلی شـرکت کارته آریانا ناحیه ۲ کابل افغانسـتان به قیمت مجموعی مبلغ ۵,۹۷۵,۶۹۹/٤۰ پنج میلیون و نوصد و هفتاد و پنج هزار وششصد ونود ونو اعشاریه چهل افغانی اعطانماید.اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشـند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاسـت تدارکات د افغانستان برشنا شـرکت – دهمزنگ – کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبـوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

+++++++

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محتـرم محیب اللـه حاجیـزاده فرزنـد عبدالمجید هارونـی ولدیـت اورون بـای دارنـده تذکـره نمبر (۵۸٤۷۰-۰۳۰۱-۱٤۰۰) مسـکونه اصلی ولایت بلخ وکیل شـرعی امتیاز دواخانه حیاتان واقع ولسوالی دولت آباد ولایت بلخ ملکیت عبدالغفور حاجیزاده فرزند عبدالمجید طی درخواسـتی عنوانی این اداره عارض و خواهان تغییر اسـم دواخانه موکل خویش از حیاتان به اسم برادران حاجیزاده گردیده است .اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشـته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت سـه روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۳۱۳

+++++++

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محتـرم حسـین علی سـلطان فـر فرزند زوار شـاه سـلطانی ولدیت سـلطان ابراهیمی دارنده تذکره نمبر (۸۵۳۱۸-۰۱۰۳-۱٤۰۰) مسـکونه اصلـی ولایت غزنی مالک امتیاز دواخانه حسین سلطان فر واقع ناحیه سیزدهم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا وادویه افغانستان عارض وخواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد باقر اسدی فرزند اسد الله حاصلی ولدیت محمد عوض حاصلی دارنده تذکره شـماره (۸۲۷۶۸-۰۳۰۳-۱٤۰۰) مسـکونه اصلی ولایت غزنی گردیده است .اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشـته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مـدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۳۱۰

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت فیصل فاضل لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۳۱۹-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای نور آقا فرزند محمد علم بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۱۹

+++++

### اطلاعیه تقرری

قرار اسـت محترم جاوید خان فرزند رجب خان دارنده تذکره شـماره (۵۲۹۵۲) مسکونه فعلی ناحیه ۲۲ در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسـات مسلویت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاسـت مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شـکایت را نخواهند داشت.۳۲۱

# شریعت

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

Monday 08 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 425


# مولوی عبدالکبیر: هیچ کسی نباید برای تقویت داعش لابی کند



معاون سیاسی ریاست الوزرا در ضیافت افطاری با سفرا و دیپلومات های خارجی گفت: امارت اسلامی داعش را در افغانستان سرکوب کرده و کسی نباید به خاطر قوی نشان دادن و تقویت آن لابیگری کند.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا امروز با نشر این خبر گفته است: مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزرا شام روز گذشته در ضیافت افطاری در قصر سپیدارکه با شرکت سفرا و دیپلوماتان خارجی برگزار شده بود شرکت کرد. ص۳

## وزارت زراعت خدمات مالی اسلامی را به شکل مرابحه منظور کرد

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری پرداخت مبلغ ۴۰۰ میلیون افغانی خدمات مالی اسلامی به شکل مرابحه و وکاله از سوی صندوق انکشاف زراعت برای سرمایه گذاری در سکتور زراعت و مالداری منظور کرد.


دفتر مطبوعاتی وزارت زراعت، آبیاری ومالداری بانشر این خبر نگاشته است: در جلسه که با حضور داشت مولوی صدراعظم عثمانی، معین زراعت و مالداری وزارت زراعت، مولوی عبدالقدیر احمد، معین مالی و اداری وزارت مالیه، مسوولان صندوق انکشاف زراعتی به هدف بررسی چگونگی پرداخت ۴۰۰ میلیون افغانی پول به شکل مرابحه و وکاله برای سرمایه‌گذاری در بخش زراعت و مالداری برگزار شد پس از ملاحظه درخواست متقاضی‌ها پرداخت ۴۰۰ میلیون افغانی خدمات مالی اسلامی به شکل مرابحه و وکاله برای بانک اسلامی ص۳

## د روغتیا نړیواله ورځ ونمانځل شوه




د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت له لوري د روغتیا نړیواله ورځ «زما روغتیا زما حق» تر شعار لاندې د یوې غونډې په ترڅ کې ونمانځل شوه.د دې ورځې څخه د نمانځنې موخه د عامه پوهاوي لوړول، د ناروغانو روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی، د روغتیا په برخه کې لاسته ۳مخ

## بغلان کې د څه باندې ۱۷ میلیونه افغانیو په لګښت ۴ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د بغلان د سینډیزې حوزې ریاست په روان لمریز کال کې د ۱۷ میلیونه ۱۶۹ زره افغانیو په لګښت څلور بنسټیزې پروژې پلې او ګټې اخیستنې ته سپارلې دي.
د بغلان د سینډیزې حوزې تخنیکي سلاکار انجنیر آصف الله رحیمي د باختر آژانس خبریال ته ویلي، چې د یادو پروژو له جملې څخه دوه پروژې په خنجان ولسوالۍ کې د اوبو د زېرمو د تنظیم په برخه کې وې، چې د اېف. اې. او. موسسې په مالي ملاتړ د ۱۲ میلیونه ۱۶۹ زره افغانیو په لګښت پلې شوي چې په پلې کېدو سره یې کابو ۳۰۰ جریبه ځمکه چې سیند باندې بدله شوې وه بېرته په زاعتي ځمکې بدلې شوي او دوه نورې ۳مخ

### سخنگوی وزارت انرژی و آب:
## با تطبیق پلان های منظم مشکلات کم آبی شهر کابل حل خواهد شد

**شـــریعت:** آب مایه حیات و یک عنصر اساسی زنده گی انسان ها بوده و نقش بسا حیاتی در تداوم زنده گی همه ی موجودات زنده دارد و یکی از ضروریات اولیه بشر شمرده می شود، با وجود این همه، اهم بودن آن؛ شهروندان کابل بخصوص غرب و شمال کابل با کمبود آب مواجه هستند و همه روزه نگرانی های مردم در حال افزایش است، تعدادی از اشخاص با بودجه شخصی شان سرمایه گذاری کرده و با ایجاد شرکت های آبرسانی، مخزن ها و چاه های عمیق حفر کرده اند و برای شهروندان مناطق یاد شده خدمات آبرسانی را انجام میدهند اما هنوز هم بسنده نیست، مشکل مردم هنوز هم با پرجاست.در این گزارش سعی بر این شده تا به مشکلات، عوامل و چگونگی راه های حل کمبود آب بپردازیم.از باشنده گان کابل در مورد کمبود آب پرسیدیم و آنان مشکل آب را یکی از چالش های عمده در پیشبرد زنده گی شان عنوان کردند.

ذبیح الله باشنده ناحیه ۱۷، سرک کوتل خیرخانه که در کوچه ۲ پامیر مدت ۱۵ سال می شود زنده گی می نماید از نبود آب رنج می برد، در پرسش سوال ما چنین پاسخ داده گفت» در حدود ۶ الی ۷ سال می شود که با کمبود آب صحی مواجه هستیم، واقعا مردم به کم رسی آب خصوصا آب پاک مشکلات زیاد دارند، نه تنها ناحیه ۱۷ بلکه تمام شهر کابل به مشکلات کم آبی مواجه است و توان خرید آب پاک را نداریم و اگر از تانکر ها و زرنج ها خریداری ص۳

### کار او ټولنیزو چارو وزارت: د شوال له لومړۍ
## تر دریمې عمومي رخصتي اعلان شوه

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د شوال المکرم له لومړۍ تر دریمې نېټې په ټول هیواد کې عمومي رخصتي اعلان کړه.

دغه وزارت په یوه مکتبوب کې ویلي چې دا درې ورځې رخصتي یې د کوچني اختر په مناسبت اعلان کړې ده. یاد وزارت وړاندې لیکي چې د اختر پر څلورمه به کاري وختونه بېرته پخواني او عادي حالت ته وروګرځي. له اختر وروسته به دولتي کارکوونکي د سهار له اتو د مازیګر تر څلورو بجو خپلو دندو ته دوام ورکوي او پنجشنبه به د تېر په څېر رسمیات تر نیمې ورځې وي.د یادونې وړ ده چې تر دې دمخه دغه وزارت د روژې میاشتې په درنښت کاري وختونه د سهار له نهو د ماسپښین تر دوو بجو ټاکلي وو

## برای نزدیک به سه هزار خانواده در دو ولایت کمک‌های بشردوستانه توزیع شد

وزارت احیاء و انکشاف دهات می‌گوید، در ادامه توزیع کمک‌های بشردوستانه به خانواده‌های نیازمند در کشور برای حدود دو هزار و ۷۰۰ خانواده در دو ولایت کمک‌های انسان‌دوستانه، توزیع شده است.

این وزارت با نشر خبرنامه‌های جداگانه از توزیع این کمک‌ها، خبر داده است. بربنیاد معلومات وزارت احیاء و انکشاف دهات، برای ۵۰۶ خانواده در ولایت ارزگان و برای دو هزار و ۲۶۸ خانواده در شهر مهترلام مرکز ولایت لغمان و ولسوالی‌های قرغه‌ای و دولت‌شاه این ولایت، توزیع شده است. ص۳



# رویدادهای خارجی

## د حماس مرګونو بریدونو کې ۱۴ صهیونستي پوځیان ووژل شول



حماس غورځنګ او نورو فلسطیني جهادي ډلو غزه کې د ۱۴ اسرایلي پوځیانو د وژل کېدو ادعا کړې ده.دغې ادعا کې راغلي، چې د دغو پوځیانو له ډلې ۹ یې د غزې په ختیځه( الزنا ) سیمه کې او ۵ نور یې په العمل سیمه کې وژل شوي او یو شمېر نور یې ټپیان شوي هم دي.اسرایلي پوځ بیا غزه کې د تېرې شپې په بریدونو کې یواځې د خپلو ۴ سرتېرو د وژل کېدو پخلی کړی دی.د اسرایلي رژیم د دفاع وزارت د رسمي شمېرو له مخې په تېرو شپږو میاشتو کې ۶۰۴ اسرایلي پوځیان وژل شوي، خو د فلسطیني جهادي ډلو د ادعا او د رواني جګړې پېچلتیا او سختوالي ته په کتو اټکل کیږي دغې جګړه کې تر شلو زرو ډېر صهیونست پوځیان وژل شوي او یا همداسې ټپیان شوي، چې د بدن مهم غړي یې له لاسه ورکړي دي.

## در پی تیراندازی در امریکا؛ دوتن کشته و هفت تن دیگر زخمی شدند

مقام‌های امریکایی اعلام کرده‌اند که در پی تیراندازی یک مرد تفنگ‌دار در ایالت «فلوریدای» این کشور دو تن کشته و هفت تن دیگر زخمی شدند.

بر اساس گزارش سی‌بی‌اس نیوز این رویداد در یک سالون کلپ‌شبانه در شهر «دورال» ایالت فلوریدا رخ داده است.

به گفته مقامات این رویداد پس از مشاجره لفظی میان مشتریان کلوپ آغاز شده و پس از مداخله یک مامور امنیتی تیراندازی صورت گرفته است.

بر اساس گزارش‌ها دو تن در این رویداد کشته شده و هفت تن دیگر به شمول یک مامور امنیتی زخمی شدند.

این در حالی است که سطح جرایم و خشونت‌های تیراندازی دسته جمعی در سال‌های اخیر در ایالت متحده امریکا افزایش یافته است.

بر اساس گزارش سازمان آرشیو خشونت‌های مسلحانه(جي. وي. اې.) در سال ۲۰۲۳ بیش از ۴۲ هزار نفر در آمریکا با سلاح ها گرم و سرد جان خود را از دست دادند.

پیش از این نیز در پی تیراندازی در نزدیکی برگزاری جشن قهرمانی تیم فوتبال «جنفر» در لیگ فوتبال ملی امریکا یک کشته و ۲۱ زخمی برجا گذاشت.

گفتنی است که آمارهای دولت آمریکا نشان می دهد که تنها سال گذشته بیش از ۵۰۰ تیراندازی دسته جمعی در ایالات متحده رخ داده است.

## شیخ الازهر؛ نهاد های جهانی در بحران غزه درمانده و نظاره گر اند



شیخ الازهر در مراسم شب قدر در قاهره مرکز مصر گفته است: نهاد های جهانی در بحران غزه درمانده و نظاره گراند خبرگزاری اسپوتنیک گزارش داد: (احمد الطیب)، شیخ الازهر در این مراسم خواهان وحدت کشورهای عربی برای بازستانی قدرت و توانایی برای رشد و پیشرفت و مقابله با بحران‌ها شد.

اوهمچنان گفت: «اتفاقات کنونی غزه ثابت می کند که جهان معاصر مارهبری عقلانی و خردمندانه را از دست داده و به سمت ورطه‌ای می شتابد که تاریخ هرگز پیش از این نظیر آن را ندیده است.»

شیخ الازهر در ادامه گفته است: «تنها چیزی که مردم تحت محاصره غزه می‌دانند این است که پروردگار خود را به عنوان شهید و شاهد جنایات نسل‌کشی طغیانگران قرن بیست و یکم ملاقات خواهند کرد»

الطیب اظهار داشت: «نهادهای بین المللی پس از اینکه تصمیم های آنها در مورد غزه از طریق مداخلات آشکار یک قدرت مستبد، ناکام ماند، عاجز و درمانده به نظاره نشسته‌اند»

او همچنان گفت: مردم بی‌دفاع غزه با قتل و نسل‌کشی به‌دست ارتشی مسلح و ظالم با قوی‌ترین سلاح‌ها مواجه هستند»

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!